بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

ستره محکمه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۳۰ مرغومی ۱۴۰۴ هـ ش | ۱ شعبان المعظم ۱۴۴۷ هـ ق | ۲۰ جنوري ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۲۳)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## راپور فعالیت‌های ماه جمادی الآخرة (۶) سال ۱۴۴۷ هـ ق ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه

ریاست تمیز مرکزی ستره محکمه در ماه جمادی الآخرة (۶) سال ۱۴۴۷ هـ ق فعالیت‌ها و اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

۱. در یک ماه به تعداد (۸۵۳) جلد دوسیه از محاکم و مراجع مربوطه به شمول (۱۹۴) جلد دوسیهٔ محاکم خاص (هیئت قضائی بر فیصله‌های محاکم ادارهٔ قبلی)، به ریاست عالی تمیز مرکز واصل و قید وارده شده‌است، که از آن جمله (۲۵) جلد دوسیهٔ محاکم خاص به تطبیق ارسال شده، (۷۹) جلد دوسیهٔ محاکم خاص غرض غور، مهر نشانی و تکمیل اوراق مسترد گردیده، (۳۷۴) جلد دوسیه غرض تمیز طلبی به دواوین پنج‌گانهٔ این ریاست ارسال گردیده، (۱۰۶) جلد دوسیهٔ حقوقی و (۱۷) جلد دوسیهٔ جزائی غرض تطبیق به ریاست عمومی حقوق و مرافعهٔ مربوطه ارسال شده، (۷۹) جلد دوسیهٔ متفرقه از اندارج خارج و به محاکم ومراجع مربوطه‌اش صادر شده‌است و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

۲. در یک ماه (٤٤١) قطعه مکتوب از محاکم و مراجع مربوطه به ریاست عالی تمیز مرکز واصل و قید وارده شده‌است، که از آن جمله (۲٦٦) قطعه مکتوب بعد از اجراآت این ریاست به محاکم و مراجع مربوطه ارسال شده‌است، (۱۳) قطعه مکتوب آگاهی از تطبیق دوسیه‌های محکمهٔ خاص (هیئت قضائی بر فیصله‌های محکمهٔ ادارهٔ قبلی) و غیر خاص (محکمهٔ امارت اسلامی)، (۱۸۹) قطعه مکتوب آگاهی از تطبیق فیصلهٔ محاکم ابتدائیه و مرافعه بوده حفظ شده، (۲۳) قطعه صادر شده و مکتوب باقی‌مانده تحت اجراآت قرار دارد.

۳. در یک ماه (۸۲۳) عریضه از طرف اصحاب دعاوی به ریاست عالی تمیز مرکز قید و ثبت کتاب عرایض گردیده‌است، که از آن جمله (٤٧٤) قطعه عرایض بعد از احکام این ریاست به غرفهٔ عرایض تسلیم داده شده‌است؛ تا برای عارضین تسلیم داده شود؛ (۳۱۷) عرایض غیر مرتبط مسترد گردیده، (۸۹) عریضه ضم دوسیه‌های اصحاب دعاوی گردیده‌است و عرایض باقی‌مانده دیگر تحت اجراآت قرار دارد.

٤. در یک ماه (۱۵۵۰) تن از مراجعین غرض اخذ معلومات به غرفهٔ معلوماتی این ریاست مراجعه نموده، که در رابطه به موضوع شان معلومات لازم داده شده‌است.

٥. در یک ماه (۲۷۰) تن از مراجعین با رئیس صاحب ریاست عالی تمیز مرکز ملاقات و در رابطه به مشکلات شان رهنمائی‌های لازم صورت گرفته‌است.

٦. در یک ماه رؤسای دواوین پنج‌گانهٔ این ریاست (۱۷۰) جلد دوسیه را جهت هدایت و مشوره با رئیس ریاست عالی تمیز مرکز شریک ساختند، که از آن جمله (۱۵۷) جلد دوسیه تائید و (۱۳) جلد دوسیه غرض غور و بررسی دوباره هدایت داده شده‌است.

٧. در یک ماه (٥٦) جلد دوسیهٔ محاکم خاص (هیئت قضائی بر فیصله‌های محاکم ادارهٔ قبلی) را علماء کرام (مفتی صاحبان تمیز مرکز) با رئیس ریاست عالی تمیز مرکز شریک نموده‌است، که از آن جمله (۲۵) تائید و غرض تطبیق به مراجع مربوطه‌اش ارسال شده‌است، (۳۱) جلد دوسیه مسترد و غرض اجراآت شرعی و قانونی به محاکم مربوطه ارسال گردیده‌است.

٨. در ماه جمادی الآخرة در مورد (۲) حکم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) اجراآت صورت گرفته‌است.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۸**
**نېټه: ۱۴۴۷/٦/ ۱۲ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د ذوالیدۍ حکم مرافعې او تمیز ته استول.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د ذوالیدۍ د موضوعاتو استیناف او تمیز ته د استولو په اړه داسې هدایت کړی دی: "د ذوالیدۍ حکم دې د ابتدائیې تر فیصلې وروسته د استیناف طلبۍ او تمیز طلبۍ په صورت کې استیناف او تمیز ته واستول شي، په استینافي او تمیز مرحلو کې دې حق د اولیت ورکړل شي یاد حکم دې تر قطعیت یا نهایي کېدلو وروسته تطبیق شي."

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۹**
**نېټه: ۱۴۴۷/٦/ ۲۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون ته د اسنادو د شتون یا نشتون په اړه د واضح معلوماتو ورکولو په اړه د کابینې شفاهي هدایت.

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې شفاهي هدایت د متحدالمآل مل د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۰**
**نېټه: ۱۴۴۷/٦/ ۲۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو عمومي ریاست اړوند بندیانو د توقیف د مودې په اړه.

د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۴۱۵۹/۱۶۰۲) مورخ ۱۴۴۷/۶/۱۸هـ.ق په توسط د بندیانو د توقیف د مودې د تمدید په اړه داسې هدایت کړی دی: "د کورنیو چارو وزارت او استخباراتو لوی ریاست اړوند بندیانو د توقیف موده چې د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان په اساس لس ورځې ټاکل شوې وه، پر همهغه حال دې پاته وي، که یاد امنیتي ارګانونه له محکمې څخه د توقیف په موده کې تمدید غواړي نو د اړوندې محکمې له لورې یوازې پنځه ورځې نور تمدید ورکول کېدای شي البته تر دې تمدید وروسته بیا هم تحقیق ته اړتیا وي نو هغه تحقیق دې له محکمې سره په ګډه ترسره کیږي"

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۱**
**نېټه: ۱۴۴۷/۷/ ۱۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د تیري اداري د محاکمو لخوا د مصادره شوي پیسو حکم.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د هدایت مطابق د تیري اداري د محاکمو لخوا د مصادره شوي پیسو په هکله د مرکزي دارالافتاء فتوی نمبر (۱۰۶۵) مورخه ۱۴۴۵/۸/۷هـ.ق د دې متحدالمآل مل د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شوه.

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۲**
**نېټه: ۱۴۴۷/۷/ ۱۸ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په جزایي موضوعاتو کې د محاکمو د جزایي اصولنامې عملي کول.

د مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان نمبر (۱۲) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۵هـ.ق په توسط د محاکمو جزایي اصولنامه په (۱) مقدمه، (۳) بابونو، (۱۰) فصلونو او (۱۱۹) مادو کې توشیح شوې ده، د دې متحدالمآل مل په (۵۹) ورقو کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شوه.

**د مظالمو او حسبه‌وو قضاء:**

**لومړی برخه:**

د مظالمو د قضاء څخه موخه د والیانو، امیرانو، مشرانو، د نفوذ او د منصب څښتنانو محاسبه ده، کله چې د دوی له جملې له یوه څخه د ولس او یا د بیت‌المآل اړوند ظلم وشي، یا ځینې پر ځینو نورو تېری وکړي، یا د شرعي احکامو په تطبیق کې تجاوز وکړي، یا له واک څخه ناوړه ګټه پورته کړي او یا د عامه ګټو په ثابتولو کې ځان ګوښه کړي.

د حسبه‌وو له قضاء څخه هدف په نېکیو امر او له بدیو څخه منعه ده، تر څو شریعت او دین پلی، اسلامي آداب او احکام تطبیق شي.

د ابوبکر ﷺ په دوره کې د مظالمو او حسبه‌وو قضاء شتون خپلواکه او ځانګړې نه وه؛ بلکې دا په ټوله راشده خلافت کې همدغسې وه، مګر دا معنی نه ورکوي، چې د دوی دندې ځنډول شوې وې؛ ځکه دا دوې دندې د ولایت او عامې قضاء دنده کې موجودې وې.

اخذلیک: تتمة النظام، ۶۳ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحیم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت بدخشان تطبیق شد

به اساس فیصله محکمه ابتدائیه شهری ولایت بدخشان بالای یک تن به اتهام فعل زنا؛ به تاریخ ۱۷/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمه ابتدائیه متهم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهم تطبیق شد. در جلسه که به همین منظور دایر گردید بود، رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری، رؤسا، اعضای قضائی و مراجعین حضور داشتند. در این جلسه اشتراک کنندگان صحبت نمودند گفت تعزیر در واقع سبب عبرت و پند برای عاملین و مرتکبین جرایم میباشد.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بلخ بالای دو تن به جرم قاچاق مشروبات الکولی؛ به تاریخ ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرمین را به ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد. حکم جزای تعزیری در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، رؤسای دواوین، اعضای قضائی، منسوبین اداری و خدماتی، محافظین قطعهٔ امنیتی محاکم و تعداد کثیری از علماء کرام، وکلای گذر، مردم و مراجعین تطبیق شد.

## د کونړ ولایت محاکمو د مسؤولینو په هڅو (۴۰) کلنه دښمني حل او فصل شوه

د کونړ ولایت بر کونړ اسمار ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په ډېرو هڅو؛ قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب، د دوو کورنیو ترمنځ څلوېښت کاله مخکې رامنځته شوې دښمني، په ۱۰/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه حل او فصل شوه.

دغه څلوېښت کلنه حقوقي موضوع د بر کونړ اسمار ولسوالۍ د «شال» کلي د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وه، چې له امله یې د شال کلی سوزېدلی و او ځمکه یې د څه مودې لپاره شاړه پاتې شوې وه او دواړو طرفونو ته درانه ځاني او مالي زیانونه رسېدلي وو.

یاده موضوع د ابتدائیه محکمې په هڅو، د سیمې د علماوو او قومي مخورو په همکارۍ په اصلاحي توګه حل او فصل شوه او د یادو قومونو ترمنځ د (۴۰) کلونو دښمني په دوستۍ بدله شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالکریم (شعیب)، مرستیال والي محترم مولوي عبدالله (حقاني)، د علماوو شورا رئیس شیخ عبدالقهار، د نورو امارتي ادارو مسؤولینو، علماء کرامو او قومي مشرانو ګډون درلود.

یادې غونډې ته د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالکریم (شعیب)، د اسمار ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مولوي بشیراحمد (خادم)، مرستیال والي، او د شیګل ولسوالۍ ولسوال مولوي حضرت علي (ذاکر) او نورو قومي مشرانو ویناوې وکړې.

## د میدان وردګ ولایت د جغتو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو د قتل (۴۰) کلنه موضوع حل شوه

د میدان وردګ ولایت د جغتو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو؛ قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب، (۴۰) کاله مخکې رامنځته شوې د ځمکې پر سر حقوقي موضوع په ۵/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق حل او فصل شوه.

یاده موضوع (۴۰) کاله مخکې د جغتو ولسوالۍ د (بیدمشک) په کلي کې د دوو کورنیو ترمنځ د ځمکې پر سر د شخړې له امله رامنځته شوې وه، چې په پایله کې له دواړو کورنیو څخه یو- یو تن په قتل رسېدلی و.

د جغتو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو دواړه کورنۍ سولې ته وهڅولې او دوی هم په خپله خوښه او رضا سره سولې ته غاړه کېښوده.

په دې توګه د دواړو کورنیو ترمنځ شته دښمني په دوستۍ بدله شوه؛ یو بل ته یې بخښنه وکړه او موضوع یې رسما حل شوه.

## د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو لخوا د جبري نکاح مخه ونیول شوه

د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په ۱۸/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په بدو کې د یوې نجلۍ د ورکولو او جبري نکاح مخنیوی وکړ.

په یاده موضوع کې (۱۲) کاله مخکې یوه نجلۍ چې هغه مهال یې عمر څلور کاله و، د بدو په بدل کې ورکړل شوې وه، موضوع ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور وڅېړل شوه.

وروسته له پوره غور او څېړنې ابتدائیه محکمې د نجلۍ په ګټه فیصله صادره کړه او د یوې جبري نکاح مخه یې ونیوله.

دغه راز د ابتدائیه محکمې مسؤولینو یاده فیصله په علني ډول په یوه غونډه کې ابلاغ کړه او د دعوې جانبینو ته یې وویل، هېڅوک نشي کولای ښځې په بدو کې ورکړي، یا هم د نارینه‌وو د ناسمو کړنو قرباني شي.

د محکمې مسؤولینو د ناستې ټولو ګډونوالو ته توصیه وکړه چې هر مؤمن مسلمان باید د ښځو او ماشومانو اسلامي او انساني کرامت ته درناوی ولري او د نکاح پر مهال باید د ښځو ټول شرعي حقونه مراعات کړي.

## په پکتیا ولایت کې شپږو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت د څمکنیو ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې شپږو کسانو ته د اخلاقي فساد په جرم؛ د دوشنبې په ورځ ۲۲/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له ۲۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې ابتدائیه محکمې رئیس مولوي جنت میر (متقي)، ولسوال قاري محمد صادق (عمیر)، امنیه قوماندان قاري محمد سفیر (سلیم)، د استخباراتو مدیر مولوي رحیم الله (سیف العمر) د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو آمر مولوي ذبیح الله، نظامي منسوبینو، علماوو شورا استازو او عامو خلکو ګډون درلود.

## په کونړ ولایت کې دریو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولایت مرافعه محکمې د پرېکړې له مخې دریو کسانو ته د لواطت په تور؛ د دوشنبې په ورځ ۲۲/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

مرافعه محکمې یاد کسان پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالکریم (شعیب) وینا وکړه وویل، که ټولنه کې حدود او تعزیرات تطبیق شي، نو موږ به د الله (جل جلاله) د رحمت مستحق وګرځو.

د غونډې په دوام د ناړۍ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مولوي سخي محمد او د یادې ولسوالۍ ولسوال شیخ امین الله (شهاب) هم د موضوع اړوند ویناوې وکړې.

غونډه د ښارې ابتدائیه محکمې د رئیس مولوي ظاهر الله (مروان) لخوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند مجاهدینو لپاره د معسکر د اتمې دورې افتتاحیه ناسته وشوه

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د حضرت خالد بن ولید )رضي‌الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندانۍ د نظامي زده‌کړو د اتمې دورې افتتاحیه ناسته؛ د روان ۱۴۴۷هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ۲۱مه نېټه د یاد ریاست په انګړ کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د دفتر عمومي مدیر الحاج مولوي خان محمد (مستغفر)، د حضرت خالد بن ولید (رضي‌الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندان مولوي ابراهیم (برهان) او نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

ناسته د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د غونډې ګډونوالو ته د یاد ریاست د دفتر عمومي مدیر الحاج مولوي خان محمد (مستغفر) د اعداد د ارزښت په اړه وینا وکړه وویل، اعداد د مجاهدینو لپاره عبادت دی، د زړه، عقل، او بدن روزنه ده، اعداد دی چې مجاهدین نه یوازې د جګړې لپاره تیاروي؛ بلکې د ولس خدمت، اخلاقو لوړولو او د شریعت حاکمیت ته یې اماده کوي.

نوموړي زیاته کړه، دا چې الله تعالی افغانانو ته له ډېرو قربانیو او ستونزو زغملو وروسته دغه اسلامي نظام ور په برخه کړ؛ نو د دغه اسلامي نظام د بقاء او لا مستحکم کېدو لپاره به له هرې ممکنې لارې کوښښ کوو چې اعداد او تدریب وکړو، تر څو د نظام پر وړاندې د هر کېدونکې بغاوت ملا ماته کړو او دغه اسلامي نظام ته د خدمت جوګه شو.

د یادونې وړ ده چې په یاده دوره کې به (۱۴۰) مجاهدینو ته نظامي او عقیدوي روزنه ورکړل شي.

غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## په پکتیکا ولایت کې پنځو مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیکا ولایت د خوشامند او وازې‌خوا ولسوالیو ابتدائیه محاکمو د پرېکړو له مخې پنځو کسانو ته د اخلاقي فساد په جرم؛ غلا او لواطت په تور، د ۱۴۴۷هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ۲۲مه او ۲۳مه نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محاکمو یاد کسان له یو کال څخه تر دوه کاله او شپږ میاشتو پر تنفیذي بند او له ۱۵ څخه تر ۳۵ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

## د خوست ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۲۶۷) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۸۶) وثیقې یې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ولسوالیو ابتدائیهٔ محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۶۷) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۸۶) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۳۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۷) دوسیې فیصله شوي، (۱۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۲۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۸) دوسیې فیصله شوي، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۸۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۶۸) دوسیه، به تعداد (۲۲۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۸۲) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته است. از آن جمله در رابطه به (۱۸۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۷) دوسیه فیصله شده، (۴۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۱۸۶) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته است. از آن جمله در رابطه به (۹۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۸) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۲۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۲۴) دوسیه، به تعداد (۵۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت دایکندی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۵۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۰۸) دوسیه، به تعداد (۲۹۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۳۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۸۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۱) دوسیه فیصله شده، (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۹) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۲۹۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۵۷۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۶۲) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ولسوالیو ابتدائیهٔ محاکمو په دوو اونیو کې (له ۶/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې څخه تر ۱۸ / ۷/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۵۷۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۶۲) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۲۷) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۴۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۸) دوسیې فیصله شوي، (۱۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۵) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۵۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۶) دوسیې فیصله شوي، (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۶۲) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۱۹۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۹۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۷۵) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۲۲۸) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۵۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۰) دوسیې فیصله شوي، (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۶۰) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسیې فیصله شوي، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۵) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۶۹) دوسیه، به تعداد (۲۳۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۲) دوسیه فیصله شده، (۳۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۷۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۷) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۳۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۸) دوسیه، به تعداد (۱۲۸) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ۱۳/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۵/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۹) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۸۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۸) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۲۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۳
### نېټه: ۱۴۴۷/۷/۲۲ هـ ق

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د مرافعې او تمیز لخوا په خپل نوبت د مستقلې فیصلې صادرول.

د متحدالمآل نمبر (۱۷) مورخ ۱۴۴۷/۶/۱۱هـ.ق په تعقیب .

د پورته ذکر شوي متحدالمآل په اړه د ځینو محکمو استهدااآت رارسېدلي، خلاصه یې داسې ده: هغه موضوعات چې د مشرتابه محترم عالي مقام ته استول نه غواړي د هغو اجراآت دکوم ترتیب موافق ترسره شي، یاد جریان د سترې محکمې محترم عالي مقام مشورتي مجلس مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۸ هـ.ق ته وړاندې شو، په اړه یې د یاد مجلس د دریيمې (۳) پرېکړې د دوهم جزء په توسط داسې هدایت صادر شو: داچې د ۱۴۴۷ هـ.ق د جمادي الاولی پر لسمه او یولسمه نېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په مشرۍ، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات، د سترې محکمې د څلورو معاونینو، د دواړو تمیزونو د رئیسانو او د سترې محکمې د دارالانشاء د رئیس په غړیتوب د سترې محکمې د یو شمېر موضوعاتو په هکله مجلس ترسره شو، په یاد مجلس کې یوه موضوع د محاکمو د فیصلو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان نمبر (۵) مورخ ۱۴۴۶/۲/۲۲ هـ.ق متعلق مطرح شوه په اړه یې مشرتابه محترم عالي مقام داسې هدایت وکړ: "یاد فرمان یوازې د هغه موضوعاتو په هکله دی چې طی د محاکمو ثلاثه وو او تائید د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی غواړي په همدغه موضوعاتو کې د محاکمو ثلاثهوو تر منځ اتفاق په حکم کې ضروري دی، مرافعه او تمیز یې په اړه مستقله فیصله نشي کولای".

بناءً د یادو موضوعاتو پرته، نور هغه موضوعات چې د مرافعې او تمیز حق ولري، مرافعه محکمه دې په خپل نوبت د اداري اصولنامې د (۱۸۹) مادې د تبصرې سره سم خپله مستقله فیصله صادره کړي، همدارنګه تمیز دې د اداري اصولنامې د (۲۶۳) مادې سره سم خپله مستقله فیصله صادره کړي.

یادونه: په محاکمو کې دې د موجوده او راتلونکو موضوعاتو په هکله د پورته ترتیب موافق اجراآت ترسره شي.

بناءً یاد هدایت د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۴
### نېټه: ۱۴۴۷/۷/۲۳ هـ ق

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د ټیټو محکمو لخوا د نقصاناتو تر اصلاح وروسته په لوړو محکمو کې اصلاح شوي فیصلې ته حق د اولیت ورکول.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د مشورتي مجلس مورخ ۱۴۴۷/۷/۴ هـ.ق د نهمې پرېکړې په اساس هغه موضوعات چې په ټیټه محکمه کې یې د فیصلې د نقصاناتو اصلاح وشي او لوړې محکمې ته محول شي لوړه محکمه دې دغسې دوسیې په نوبت کې نه ایږدي بلکې حق د اولیت دې ورکوي.

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو .

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۵
### نېټه: ۱۴۴۷/۷/۲۵ هـ ق

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په ولایتونو کې د محکمو له لوري د صادرېدونکو وثیقو د ورځینو لیستونو د شریکولو په اړه.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۷/۷/۲۲ هـ.ق په توسط داسې هدایت کړی: "دا چې د بهرنیو چارو وزارت په هېواد کې د زونونو په کچه په (۹) ولایتونو :( کندهار، پکتیا، ننګرهار، خوست، بدخشان، کندز، بلخ، هرات، او نیمروز) کې ولایتي څانګې لري او نور ولایتونه د زون په کچه د یادو ولایتي څانګو تر پوښښ لاندې دي له همدې امله د یادو ولایتونو او همدارنګه د هغو ولایتونو د وثائقو آمریتونه او د اړونده ولسوالیو ابتدائیه محکمې چې د زون په کچه د پورته ذکر شوي ولایتي څانګو پورې مربوط دي، تر دې وروسته دې د اجراء شوي وثائقو(نکاح خطونه، طلاق خطونه، وصیت خطونه، وکالت خطونه او زوجیت خطونه) لست د ضمیمه جدول مطابق د مربوطه ولایت مرافعه محکمې ته استوي.

د مربوطه ولایت مرافعه محکمه دې یاد لستونه د اړونده ولایت د بهرنیو چارو وزارت ولایتي څانګې یا د زون په سطحه د یاد وزارت ولایتي څانګې ته استوي همداراز د بهرنیو چارو وزارت مربوطه مرجع دې د سترې محکمې د مالي او اداري عمومي ریاست د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت سره په هماهنګۍ د ټولو ولایتونو مرافعه محکمو لپاره د یاد وزارت د قونسلي چارو ریاست د تصادیقو د برېښنایي سیستم ځانګړې حساب فعال کړي ترڅو محاکم وکولای شي د یاد وزارت له لوري د تصدیق شوي بهرني سندونو صحت په مستقیم ډول د یاد سیستم له لارې معلوم کړي او د مراجعینو ستونزې په عاجله توګه ورسره حل شي."

بناءً یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

## حکم جزای تعزیری بالای هفت مجرم و متهم در ولایت هرات تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ادرسکن، پشتون زرغون و شیندند ولایت هرات بالای هفت تن به شمول یک زن به جرم روابط نامشروع؛ اتهام لواطت و سرقت، به تاریخ ۲۲، ۲۳ و ۲۴ رجب المرجب سال ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محاکم ابتدائیه مجرمین و متهمین را به یک ـ یک سال حبس تنفیذی و از ۳۰ تا ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور مسؤولین محاکم و ادارات دیگر امارتی و مراجعین تطبیق گردید.

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم و یک متهم در ولایت غزنی تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی ده یک ولایت غزنی بالای سه تن به شمول یک زن به جرم فساد اخلاقی و یک تن به اتهام سرقت، روز چهارشنبه مؤرخ ۲۴/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه سه مجرم را به یک ـ یک سال حبس تنفیذی و ۲۰ـ ۲۰ دُره و متهم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین و متهم تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور مسؤولین و تعداد کثیری از مردم عام تطبیق شد.

## په میدان وردګ ولایت کې درېیو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه




د میدان وردګ ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون درېیو کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم؛ په ۱۴۴۷/۷/۱۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یو مجرم پر یو کال، دویم مجرم پر څلور میاشتې او درېیم مجرم پر (۱۲) کاله تنفیذي بند او له ۳۰ څخه تر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو، چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.


په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د ابتدائیه محکمې مسؤولینو په اسلامي نظام کې د حدودو او تعزیراتو پر اهمیت ویناوې وکړې او ورپسې پر مجرمینو د تعزیري سزا حکم تطبیق شو.

**«سراج الأحكام في معاملات الإسلام» کتاب په نوې بڼه او عصري ډیزاین چاپ شو!**

**«سراج الأحكام في معاملات الإسلام»** کتاب په قضاء برخه کې د افغانستان د جیدو علماء کرامو مشهور او ګټور اثر دی؛ چې تألیف یې د مرحوم امیر عبدالرحمن خان د سلطنت پر مهال پیل او د مرحوم حبیب الله خان د سلطنت په دوره کې بشپړ شو.

په دغه کتاب کې د حنفي فقهې د معتمدو او معتبرو کتابونو له متونو، شروحو، فتاواوو او حاشیو څخه په پوره مهارت او دقت د مفتی به اقوالو خلاصه را اخیستل شوې.

**«سراج الأحكام في معاملات الإسلام»** کتاب له ډېر وخت راهیسې چاپ شوی نه و؛ ان تر دې چې پیدا کېدل یې ډېر ګران و؛ په دې سربېره ډېری علماء کرامو او قضاتو غوښتنه کوله چې دغه کتاب دې په نوې بڼه او عصري ډیزاین تألیف او چاپ شي، څکه له یوې خوا به دغه اثر چې د افغانستان له ویاړمنو آثارو څخه دی، را ژوندی شي، بلخوا دغه د معاملاتو په باب کې یو مهم کتاب دی، چې د محاکمو د فیصلو په حل کې به ډېر ګټور رول ولري او قضات به په آسانه ډول ترې استفاده وکړي؛ بناءً د سترې محکمې د رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب تر مشرۍ لاندې علماوو د حوالو له تخریج او تحقیق سره د کتاب لیکل پیل کړل، چې الحمدلله اوس (۱۴۴۷ هـ ق) کال کې بشپړ او په ښه معیاري ډول په اتو (۸) جلدونو کې ډیزاین او چاپ شو.




د عمده ترلاسه کولو پته:

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

اړیکې شمېره: **۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱**

واټساپ شمېره: **۰۷۱۱۰۰۷۷۶۶**

او پرچون یې د ټولو ولایاتو له مشهورو کتاب پلورنځیو څخه ترلاسه کولای شئ.

Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳